Preview (1 / 10) - ketabton.com

مستند داستان

# د پــېريـــانــو بـادشـاه

**لیکوال: سید ادریس سادات**

Preview (2 / 10) - ketabton.com


## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: **د پېریانو بادشاه**

لیکوال: **سید ادریس سادات**

کمپوز او ډیزاین: **طیب الله نظیرزاده**

خپرندوی: **سهار خپرندویه ټولنه**. جلال اباد

**احساس خپرندویه ټولنه**. جلال اباد

چاپ کال: ۱۴۰۴ ل ل/۲۰۲۵م


**د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال او خپرندویې ټولنې سره خوندي دي**


**د تر لاسه کولو ادرس:**

جلال اباد: **سهار خپرندویه ټولنه**. اسحاقزی مارکیټ. بزازۍ څلورلارې

اړیکه: ۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷/۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵/۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲

کابل: مازیګر کتاب پلورنځی، اکسوس کتاب پلورنځی، مستقبل کتاب پلورنځی، علمي کتاب پلورنځی، سروش کتاب پلورنځی، جهان دانش کتاب پلورنځی، سمون کتاب پلورنځی

ګردېز: ماشاء الله کتاب پلورنځی، علمي کتاب پلورنځی

لغمان: حبیب الله عزیزي کتاب پلورنځی، مدینه مارکیټ، چهار باغ بازار

هلمند: تاج منور کتاب پلورنځی

پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی

خوست: رڼا کتاب پلورنځی

کندهار: عرفان کتاب پلورنځی

Preview (3 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Preview (4 / 10) - ketabton.com

ډالۍ!

خپل ګران کاکا (سيد حسين پاچا) ته چې د مرګ په بستر پروت دی.

(سادات)

Preview (5 / 10) - ketabton.com


***

د سهار لمر مې په مخ تېز ولګېد، له خوبه پورته شوم.

اوووووه! لمونځ لکه چې قضا شو؟

شا و خوا مې ولیدل؛ بیړۍ خپل مزل کاوه، مخامخ مې خیال شو، له لیرې ځایه یو غر په نظر راغی.

د علي په بیګ کې مې لاس دننه کړ، دوربین مې ترې راوباسه.

سترګو ته مې برابر کړ، دا غر د یخي په نتیجه کې دلته جوړ شوی وو.

زموږ بیړۍ ډېره په چټکۍ سره پداسې ډول د دې غره په طرف روانه وه، لکه د یو شین چمن په منځ کې چې باد یوه د خزان پاڼه په مخه کړې وي.

د علي ولی مې وټپاوه.

علي وه علي!

پاځه چې یو لوی خطر پیښېدونکی دی، هله وروره (!)

Preview (6 / 10) - ketabton.com


علي سترګې وموښلې، راپورته شو:

څه؟

د څه خطر دی؟

مخامخ يو د يخي غر دی او بيړی ډيره په چټکۍ سره ورواته ده، خدای ناخواسته چيرته ډوب مو نکړي.

زه له ځايه پورته شوم؛ چپ طرف ته په پوړيو کې د کښتۍ لاندې برخې ته راکښوتم، سمندر ته مې يو لاس په سختۍ سره ورکوز کړ، مخ ته مې ترې لپه واچوله...

علي راغبرګ کړ...!

مکوه هلکه په سمندر کې مخ مينځل د مخ پوستکي ته زيان رسوي؛ سمندري اوبه مالګينې وي، او د سمندري ژويو ټولې پاتې شونې پکې پرتې وي.

هههههههه، ياره ستا دې ساينس زه ليونی کړم.

موږ چې هر کار کوو، په خدای توکل پرې وايو او کوو يې....!

او دا اوسنی ساينس دې تاته مبارک وی، ماته زما رب کافي دی.

واوره هلکه..!

که ساينس نه وای نو شايد ته اوس د سمندر په منځ کې داسې په آرامه نه وې ناست...!

ما ورته کړل:

دا هر څه د دين اختراعات دي، کاش تاته هم خدای هدايت کړی وای او قران مجيد دې مطالعه کړی وای نو ضرور بدې دا منلي وو؛ چې کښتۍ د لومړی ځل لپاره حضرت نوح عليه سلام جوړه کړې ده.

علي وويل:

Preview (7 / 10) - ketabton.com


ته دې په خپل خدای باندې یقین ساته ان شاء الله زه به یوه ورځ ضرور دې نتیجې ته ورسېږم.

چې د دې هر څه مالک څوک دی، او څنګه دا دومره کاینات داسې په نظم سره چلیږي؟

سمه ده، ان شاء الله ته به ضرور خپلې موخې ته ورسیږې.

اله غر رانږدې شو لیونیه زه خو تاسره په خبرو شوم، ستا ولې له یاده ووتل؟

راځه ژر کوه.

د کښتۍ پورته منزل ته راوختؤ.

علي د کښتۍ شټرنګ په ډېرې سختۍ سره چپ طرف ته تاو کړ، خو چې ویې لیدل له هغې خوا یو لوی نهنګ په اوبو کې راوچت شو.

علي د نهنګ په لیدلو وارخطا شو، اشترنګ تـرې د غـره خواتـه تـاو شـو، غـر یـې وواهه.

د یو غره له نږېدو سره د غرونو د لړۍ غورځېدا پیل شوه؛ غرونه ډېـر زیـات وو، یـو یو چپه کېده او په اوبو کې ویلي کېده...!

موږ ورته خالي د یو غر فکر کړی وو، خو شاته یې پوره د غرونو کلی ولاړ وو.

ټول په تدریجي ډول چپه او په اوبو کې ویلي شول، پدې سره نو د اوبـو حجـم پـه کلار کلار رازیات شو.

علي ماته حیران حیران کتل، بیړۍ جټکه وخوړه، اوبـه راډېـرې شـوې او سـمندري څپې د پخوا په پرتله تیزې شوې..!

څه شیبه سمندر کښتۍ ته تیزې جټکې ورکړې.

هغه غرونه چې د بحر احمر په تودو اوبو کې ویلي شوي وو، نو لـوګی او بخـار یـې آسمان ته پورته شو.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

په پورته طرف لنډه مصافه کې ویرونکې وریځ راپیدا شوه، رڼا ورځ وه مګر د دې ځای ننداره د شپې په ډول شوه؛ له وریځو څخه د مځکې پر لور غټ غټ څاڅکي راولوېدل، د سمندر څپو د باران په لیدلو سره خپل قهر نور هم زیات کړ.
د تندر آوازونو او د برېښنا رڼا هره خوا په سر واخیسته.
د کښتۍ منځ ته اوبه راغلې، علي هاخوا دیخوا منډې ووهلې!
کښتۍ په سمندري توفان کې ډوبېدو ته نږدې شوه،
د نړۍ له انسانانو لیرې اللّه تعالی په موږ باندې د سمندر په منځ کې داسې امتحان راوست، چې ریښتیا هم له ویرې ډك ؤو.
د اوبو زور کښتۍ ته بار بار جټکې ورکولې، زه کله د کښتۍ یو خوا او کله بل خواته غورځېدم.
ما علي ته په داسې حال کې وویل چې د سمندر د اوبو تېزو څاڅکو زما غږ ورك کړی ؤو.
علي!
یو څه وکړه، ته خو ساینس پوه یې...!
کښتۍ د سمندري جټکو څخه وژغوره...!
علي وانه ورېدل، دا ځل مې په چیغو کې ورته خپله خبره تکرار کړه.
ویې ویل:
یاره حسنه ما په ټول ساینس کې د داسې وخت په اړه څه د زده کړې لیدلي ندي، ما سره د دې مشکل هېڅ حل لاره نشته.
زه په ډېر تکلیف د علي خواته ورغلم، په داسې سخت وخت کې مې ځان یو څه آرام کړ د کښتۍ یوه پله دواړو ونیوه ورته مې وویل:

Preview (9 / 10) - ketabton.com



اسلام له ساینس څخه پوره څوارلس سوه کاله مخکې راغلی دی، په هغې کې یې حل لاره شته...!

یاره داسې سخت حالات دي او تا فلسفه شروع کړې ده، د لیکوالۍ اوشاعرۍ وخت معلوم وي.

لار راوښایه څه باید وکړؤ؟

ورته مې اشاره وکړه تر څو د کښتۍ له اوبو څخه درې ځله اوبه خولې ته او درې ځله پوزې ته واچوي، په یو لاس یې د کښتۍ پله ونیوه او په بل لاس یې خولې او پوزې ته اوبه واچولې.

دا چې باران تېز وو نو فکر مې وکړ چې غسل یې وشو، ما هم همداسې وکړل بس د خدای در ته دواړو لاسونه لپه کړل.

او له رب څخه مو د دعا داسې غوښتنه وکړه:

یا حافظه خدایه!

لکه څرنګه چې دې یوسف علیه سلام په کوهي کې، ابرهیم علیه سلام په اور کې او یونس علیه سلام د ماهي په ګېډه کې روغ ساتلی وو.

پروردګاره دلته زموږ هم هماغه ډول حفاظت وکړه، یا ربه زه په دې پوره باور لرم، چې ستا د قدرت په لیدلو به نن علي ستا شتون مني او مسلمانیږي به!

سرونه مو په داسې حالت کې په لرګي کېښودل، چې په یو لاس مو د کښتۍ پله نیولې وه.

د قادر ذات قدرت ؤو، څه شېبه مو سرونه په ځمکه ایښي ؤو د کښتۍ جټکې یو څه کمې شوې؛ هر کله چې مو سر راپورته کړ نو سمندر داسې ښکارېده لکه چا چې ورته امر کړی وي، چې بــــــس ودرېږه!

Preview (10 / 10) - ketabton.com


سمندري څپې په آرام آرام کښېناستې، دا حالت داسې ؤو لکه یو رېښتینی کرامت؛ شاوخوا د باران څاڅکي ورک شؤ.

د سمندر سطحه بیرته برابره شوه، شنو اوبو د الله تعالی امر ومانه او موږ په کښتۍ کې له مرگه وژغورل شؤ.

علي ماته حیران حیران راوکتل، بیا یې سمندر ته وکتل...!

ناڅاپه یې سترگو ته لاس ونیوه او په ژړا شو، ویې ویل:

ما نن هغه رب وموند، په کوم رب پسې چې زه پنځه ویشت کاله سرگردانه گرځېدم.

سبحان الله!

زما په سترگو کې هم اوښکې راغلې، علي مې داسې یو ملگری وو چې په هیڅ حالت کې یې هم یواځې پرېښی نه یم.

په هغه مې د جهنم اور نه پېرزو کېده، شکر دی خدایه چې هغه دې پخپل مبارک دین اسلام باندې ونازاوه.

ډېر ژر د آسمان مخه وریځو پرېښوده او لمر پکې خپل ښکلی مخ راڅرگند کړ، ما خپلې جامې وزبېښلې...!

اوبه یې په کښتۍ کې تویې شوې، کښتۍ ته چې مې وکتل ټوله له اوبو ډکه وه.

علي خپل سر په زنگنونو کې ننباسلی وو، ما ژر ژر بالټې واخیست او له بېړۍ څخه مې اوبه بیرون اچول پیل کړل.

زه په کار بوخت وم، علي وویل:

بیرته عدن ته ځو؟

ومې ویل:

څه څه؟

هو عدن ته ځو، د خپل خدای عبادت کوو او نورو ته دا دین رسوو.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/hLMyCP6BQKg

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.